(رحمه الله)

## د امام محمد بن عبد الوهاب

# دعوت او سیرت

لیکنه:

## شیخ عبد العزیز بن عبد الله بن باز

(رحمه الله)



شركاء التنفيذ:

دار الإسلام — جمعية الربوة — رواد الترجمة — المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

**"الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم وبارك على عبده ورسوله وخيرته من خلقه سيدنا و إمامنا محمد بن عبد الله، وعلى آله وأصحابه ومن والاه.**

وبعد، محترمو ورونو او ګرانو بچيانو، په دې وينا (محاضره) کې درته داسې څه وړاندې کوم، چې فکرونه مو روښانه او حقايق څرګند کړي، د الله او بندګانو لپاره نصيحت، او د هغه چا يو څه حق ادا کول چې په اړه يې وينا کوم، د وينا عنوان دی: د امام محمد بن عبد الوهاب دعوت او سيرت.

کله چې خبره د مصلحينو، دعوتګرو او نوښتګرو اړوند وي، د دوی د احوالو، نېکو خويونو او لويو کارونو يادونه په کې وي، او د دوی هغه سيرت په کې تشريح کېږي چې پر اخلاص او دعوت کې يې پر ريښتينولۍ او اصلاح دلالت کوي، کله چې خبره د دغو مصلحينو، د دوی د اخلاقو، اعمالو او سيرت په اړه وي، چې زړونه يې غواړي او خلک ورته په شوق کې وي، ټول پر دين غيرتي، اصلاح غوښتونکي او حق لارې ته بلونکي خلک

يې اوريده غواړي، نو ومې غوښتل چې د يوه ستر شخصيت، لوی مصلح او غيرتي دعوتګر په اړه درته وغږېږم، هغه څوک چې په دولسمه هجري پېړۍ کې يې په عربي جزيره کې اسلام ته نوی والی ورکړ، شيخ، امام محمد بن عبد الوهاب بن سليمان بن علي التميمي الحنبلي.

دغه امام په عربي جزيره کې او له عربي جزيرې بهر خلکو او په ځانګړي ډول علماوو، لويانو، مشرانو او نومياليو پېژندلی دی، خلکو يې په اړه ډېرې لوېې او وړې ليکنې کړې دي، او ځينو خلکو يې په ځانګړي ډول په اړه ليکل کړي دي، ان ختيځپوهانو (مستشرقانو) يې په اړه ډېر څه ليکلي، نورو يې په اړه د اصلاحګرو اړوند او تاريخي ليکنو کې ليکل کړي دي، باانصافه خلکو د يوه لوی مصلح، د اسلام د مجدد او د الله پر لاره د روان سړي په توګه ستايلی، او دغه ستايونکي له شمېره وتلي دي.

چې ستر لیکوال ابو بکر شیخ حسین بن غنام الأحسائي یو له دوی څخه دی. نوموړي د دې شیخ په اړه ښه او ګټور لیکل کړي، د هغه سیرت یې بیان کړی او غزوات یې ذکر کړي، په دې اړوند یې اوږده لیکل کړي، د هغه رسالې او له کتاب الله نه د هغه استنباطات یې لیکلي دي. دغه راز شیخ عثمان بن بشر په خپل کتاب «عنوان المجد» کې د دې شیخ، د ده د دعوت، سیرت، د ژوند لیک، غزواتو او جهاد په اړه لیکل کړي دي. ځینې دغه ستاینکي لیکوالان بیا له عربي جزیرې بهر دي، لکه دکتور احمد امین چې په «زعماء الإصلاح» کتاب کې د هغه په اړه لیکل کړي او انصاف یې کړی. مشر استاذ مسعود ندوي هم له دوی څخه دی، د هغه په اړه یې لیکل کړی او هغه یې مظلوم مصلح نوموړی دی، د هغه د سیرت په اړه یې لیکل کړي او ښه لیکل یې کړي دي، نورو هم د هغه په اړه لیکل کړي، چې یو یې مشر استاذ امیر محمد بن اسماعیل الصنعاني دی،

دی د هغه همزمان او دعوتګر و، کله چې د شيخ رحمه الله له دعوته خبر شو، خوشحاله شو او د الله ثنا يې پرې وويله.

دغه راز د نيل الأوطار مؤلف ستر علامه شيخ محمد بن علي شوکاني يې هم په اړه ليکل کړي او ستره ويرنه (مرثيه) يې پرې ويلې ده، له دوی پرته نورو ډېرو پرې ليکل کړي دي، چې علماء او لوستونکي يې پېژني، او لدې امله چې ډېری خلک له دې سړي او د هغه له سيرت او دعوت سره اشنا نه و، ما وغوښتل چې د ده حالت بيانولو کې ونډه واخلم، د هغه غوره اخلاق، نېک دعوت او رېښتونی جهاد بيان کړم، او هغه څه لږ روښانه کړم، چې زه يې د دې امام په اړه پېژنم، څو هغه خلک يې په اړه غور وکړي چې د نوموړي په اړه زړه نازړه دي، يا يې پر حالت، دعوت او مسلک شکمن دي. د دې امام د زېږېدنې په اړه مشهوره خبره دا ده چې په کال (۱۱۱۵) هجري کې زېږېدلی و، دغه راز (۱۱۱۱) هجري کال هم يادېږي، خو مشهور لومړی هغه دی، چې په (۱۱۱۵) هجري کې زېږېدلی و،

پر دغه هجرت کوونکي دې د الله سبحانه وتعالی ډېر درود او سلام وي.

په عيينة ښارګوټي کې يې له خپل پلاره زده کړه وکړه، دغه ښارګوټی يې د زېږېدو ځای هم دی، چې د رياض شمال لويديځ لور ته د نجد په يمامه کې يو معلوم کلی دی، او له رياض څخه په اويا (۷۰) کيلو متره واټن کې پروت دی، هملته وزېږېد او په غوره تربيه رالوی شو، په وړکتوب کې يې قرآن زده کړ، او له خپل پلار عبدالوهاب بن سليمان څخه يې په زده کړه او دينپوهنه کې ښه خواري وکړه، پلار يې ستر فقيه، لوی عالم او په عيينة ښار کې قاضي و. ځوانۍ ته له رسېدو وروسته يې د حج نيت وکړ او بيت الله شريف ته ولاړ، هلته يې د حرم شريف له ځينو علماوو زده کړه وکړه، بيا د محبوب نبي صلی الله عليه وسلم ښار (مدينې) ته ولاړ، د هغه ځای له علماوو سره شو او څه وخت هلته پاتې شو او د مدينې د هغه وخت له دوو لويو او نامتو علماوو يې زده کړه وکړه. او دوی

دواړه: چې يو شيخ عبدالله بن ابراهيم بن سيف النجدي و، اصلا د «المجمعة» نومې ځای ځخه و، نوموړی د «العذب الفائض في علم الفرائض» د ليکوال شيخ ابراهيم بن عبد الله پلار و. دغه راز يې مدينه کې له ستر عالم محمد حياة السندي نه هم زده کړه وکړه. مدينه کې دا دوه علماء وو، چې شيخ ترې په زده کړه مشهور دی او ښايي له نورو داسې علماوو يې هم علم ترلاسه کړی وي، چې موږ يې نه پېژنو.

بيا شيخ صاحب عراق ته د علم تر لاسه کولو لپاره ولاړ، بصرې ته ولاړ؛ د هغه ځای له علماوو سره شو او د الله له خوښې سره سم علم يې ترلاسه کړ، هلته يې د الله توحيد ته بلنه ښکاره کړه، خلک يې سنتو ته راوبلل او دا يې وروښوده چې پر ټولو مسلمانانو لازمه ده چې خپل دين د الله له کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سنتو څخه واخلي، په دې اړه يې بحث او مذاکرې وکړې او له ځايي علماوو سره يې مناظرې هم وکړې. بصره کې د نوموړي له استاذانو څخه د

شيخ محمد المجموعي په نوم يو تن مشهور دی، بصره کې څه خلک پرې راپورته شول او ده او د ده دغه شيخ ته يې څه ضرر هم ورساوه، له همدې امله له بصرې ووت او غوښتل يې شام ته ولاړ شي، خو د لګښت د نه درلودو له کبله و نه توانېد، بيا له بصرې څخه «زبير» او له زبيره «أحساء» ته ولاړ، هلته له علماوو سره شو او د دين د ځينو اصولو په اړه يې ورسره مذاکره کوله. بيا حريملاء ښار ته ولاړ، چې دا د دولسمې پېړۍ پنځوسم کلونه وو (والله أعلم)، ځکه پلار يې په عيينة کې قاضي و او د هغه ځای له امير سره يې شخړه راغله، نو په ۱۱۳۹ هجري کې ترې حريملاء ته ولاړ، بيا شيخ محمد هم خپل پلار پسې حريملاء ته ورغی، چې د هغه ورتګ په ۱۱۴۰ هجري يا له دې وروسته کلونو کې راځي، بيا هملته مېشت شو او تر هغه په علم، تعليم او دعوت بوخت و چې پلار يې په ۱۱۵۳ هجري کې مړ شو، نو د حريملاء ځينو خلکو له شر سره مخ کړ، ځينو کم عقلانو يې ان د وژلو هوډ وکړ، او ويل

کېږي چې ځينو خلکو پرې دېوال راغورځاوه خو نور خلک پرې پوی شول او وتښتېدل، له دې وروسته شيخ رحمت الله عليه عيينة ته ستون شو.

او دا بې عقلان له دې امله پرې غوسه وو، چې هغه په نېکۍ امر او له بدۍ منع کوله، د واک خاوندان يې دې ته هڅول چې هغو مجرمانو ته تعزير ورکړي، کومو چې پر خلکو په غلاو، چور او ضرر رسولو تېری کاوه، دغه بې عقلان چې هلته مريان بلل کېدل، کله چې پوی شول چې شيخ د دوی پر ضد دی، د دوی کړنې يې خوښې نه دي او اميران تشويقوي چې دوی ته سزا ورکړي او د شر مخه يې ونيسي، نو دوی پرې په قهر شول او د هغه د وژنې هوډ يې وکړ، خو هغه الله وساته او عيينة ته په داسې حال کې ورغی چې د هغه ځای امير عثمان بن ناصر بن معمر و، دی هغه ته ورغی، امير يې هرکلی وکړ او ورته يې ويل: الله ته بلنه کوه، موږ دې مل او مرستندوی يو، خپلې

نېکې هيلې يې ورته څرګندې کړې او د هغه له کار سره يې مينه او موافقه وښوده.

بيا شيخ پر تعليم، ښوونه، الله عز وجل ته پر بلنه، خير او لله في الله محبت ته د خلکو په لارښوونه بوخت شو، عيينة کې يې دعوت شهرت وموند او خپور شو، چې له ګاونډيو کليو هم خلک ورته راغلل، بيا يوه ورځ شيخ ځايي مشر عثمان ته وويل: راځه چې دا د زيد بن الخطاب رضي الله عنه ګنبذه ونړوو، ځکه دا په غير شرعي توګه جوړه شوې ده او الله جل جلاله دا کار نه خوښوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم هم پر قبرونو له ودانيو کولو او مسجدونو جوړولو منع فرمايلې ده، دې ګنبذې خلک په فتنه کې اچولي، عقيدې يې خرابې کړې دي او شرک پرې رامنځته شوی، نو بايد ونړول شي، امير ورته وويل: نړولی يې شو. شيخ وويل: زه وېرېږم چې د جبيلة خلک به راوپارېږي، جبيله دې قبر ته نږدې يو کلی و، نو عثمان له ۶۰۰ سرتېرو سره د ګنبذې ورانولو پسې ووت، شيخ

رحمة الله علیه هم ورسره و، کله چې ګنبذې ته نږدې شول د جبیلة خلک خبر شول او د ګنبذې ساتنې ته راووتل، خو کله یې چې امیر عثمان او ورسره خلک ولیدل، ستانه او ارام شول. بیا شیخ رحمة الله علیه د ګنبذې نړولو ته ورمخکې شو او الله د هغه په لاسونو ونړوله. دلته به د شیخ رحمة الله علیه له قیام وړاندې د نجد حال ذکر کړو، د قیام لاملونه به یې څرګند کړو او د دعوت په اړه به یې وغږیږو.

د نجد خلک د شیخ له دعوت وړاندې په داسې حال کې وو چې هیڅ مسلمان پرې راضي نه و، شرک اکبر ډېر شوی او خپور شوی و، تر دې چې د ګنبذو، ونو، تیږو او نورو شیانو بندګي کېدله، د هغو لیونیانو بندګي هم کېده چې له عقلونو خلاص وو، خو د ولایت دعوه یې کوله، نجد له کوډګرو او کاهنانو ډک و، خلکو به ترې پوښتنې کولې او بیا یې د هغوی تصدیق کاوه، ډېر لږ خلک د الله په خوښه له دې کارونو بچ وو، خلک پر دنیا او د دنیا په مزو کې غرق وو، د الله والا خلک او د دین

مرستندویان ډېر کم وو، د حرمینو شریفینو هم همدا حال و، یمن هم له شرکه ډک و، پر قبرونو گنبذې جوړېدې، له اولیاوو دعاو او پناوې غوښتل کېدې، یمن کې دا کیسې ډېرې وې، نجد کې خو له شمېره وتې، قبرونه، غارونه، ونې بوټې، لېونیان او بې عقلان چې له الله پرته بلل کېدل او خلکو پرې له الله سره شریکې پناوې غوښتې، دغه راز په نجد کې له پېریانو سوالونه کول او پناه غوښتل مشهور وو، حلالې ورته کېدې او د کورونو کونجونو کې یې د دې لپاره ایښودې، چې دوی د هغوی له شرونو خوندي او ژغورېدلي وي. کله چې شیخ امام دغه شرک او په خلکو کې یې ظهور ولید، او دا چې له دې هیڅ منکر نه شته، نه د الله لور ته څوک دعوت کوي، نو هڅې یې پیل کړې، په صبر یې دعوت کاوه او پوهېده چې جهاد، صبر او تکلیفونه گالل حتمي دي، نو عیینة کې یې ښوونه، روزنه او لارښوونه پیل کړه، په دې اړه یې علماوو ته لیکل وکړل، خبرې اترې یې ورسره وکړې، پدې تمه چې هغو ورسره د الله د دین

مرسته کې ودرېږي، د دغه شرک او خرافاتو خلاف مبارزه وکړي، نو د نجد حرمينو، يمن او نورو ځايونو ډېرو علماوو ځواب ورکړ او موافقه يې ورسره وکړه، ځينو نورو يې مخالفت وکړ، او د ده د عوت بدي يې وويله، ترې په تېښته شول او دوی دوه ډوله وو، يا جاهل خرافاتي چې د الله له دين او توحيده ناخبره و او يوازې هغه جهل، ګمراهي، شرک، بدعت او خرافات يې پېژندل چې له پلرونو او نيکونو ورپاتې وو، د همدغه ډول خلکو په اړه الله عز وجل فرمايلي: موږ خپل پلرونه په يوه لاره موندلي او يقيناً موږ دهغوی پر پلونو روان يو. [الزخرف ۲۳ آيت] بلې ډلې چې علماء هم ورته ويل کېدل، د کينې او ضد له کبله پرې رد کاوه، له دې وېرې چې خلک ورته و نه وايي، چې تاسو ولې موږ له دې کاره نه منع کولو؟. څنګه د عبدالوهاب زوی راغی او پر حق ودرېد، او تاسو علماء هم وئ خو موږ مو له دې باطله نه ايسارولو؟! نو ځکه يې ده سره کينه وکړه او خلکو ته خجالته ول، حق

سره يې ضد ښکاره کړ، دنيا يې په اخرت غوره وبلله او پر اخرت د دنيا غوره بللو کې يې د يهودو پيروي وکړه، الله دې موږ له دې کاره خوندي ولري.

خو شيخ صبر کاوه او خپل دعوت ته يې کار ووايه، د جزيرې دننه او بهر ډېرو علماوو او شخصيتونو هغه تشويق هم کړ، نو خپل کار ته يې ټينګه ملا وتړله او له خپل رب عز وجل نه يې مرسته وغوښته، له دې وړاندې د الله له کتاب سره ملازم و، او د کتاب الله په تفسير او هغه نه د مسايلو په استنباط کې يې ډېر کار کړی و، دغه راز د رسول صلی الله عليه وسلم او صحابه و له سيرت سره ملازم و، ډېر کوښښ او ژور نظر يې په کې وکړ، تر دې چې هغه څه يې په کې وموندل چې ده سره يې مرسته وکړه او پر حق يې ثابت قدم پاتې کړ، نو ټينګ هوډ يې وکړ او پرېکړه يې وکړه چې دعوت به د خلکو تر منځ خپروي، اميرانو او علماوو ته به په دې تړاو ليکونه لېږي، او په دې لار کې چې هر څه کېږي، ودې شي.

نو الله يې دا نېک اميدونه ترسره کړل، دعوت يې د ده په وسيله خپور کړ او حق يې پرې مضبوط کړ، الله ورته ملګري مرستندويان او دوستان پيدا کړل، تر دې چې د الله دين څرګند او کلمه يې لوړه شوه، شيخ په عيينة کې د تعليم او ښوونې له لارې دعوت ته دوام ورکړ، بيا يې په پوره کوښښ په ريښتينې توګه د شرک د اثارو د له منځه وړلو کار پيل کړ، کله چې پوه شو چې يوازې بلنه اغېز نه کوي، نو دعوت ته يې د عمل جامه ورواغوسته او د شرک له اثارو يې چې څه په وس پوره وو او امکان يې و، هغه يې له منځه يوووړل، شيخ ځايي امير عثمان بن معمر ته وويل: د زيد پر قبر چې دا کومه ګنبذه ولاړه ده، بايد ونړول شي. زيد بن الخطاب رضي الله عنه د امير المومنين عمر بن الخطاب ورور و، الله دې له ټولو نه راضي شي. هغه د نبوي هجرت په ۱۲م کال د مسيلمة الكذاب پر ضد جګړه کې شهيد شوی و، نو په همغه ځای کې شهيد شوی و او پر قبر يې ګنبذه جوړه شوې وه، کېدای شي قبر د ده پر

ځای د بل چا وي، خو د خلکو له ياده د همده دی، نو عثمان د مخکې په څېر ومنله او ګنبذه يې ونړوله الحمد لله، چې د الله په فضل تر ننه يې کومه نښه نده پاتې، او دا چې له نېک نيته او د حق د مرستې لپاره ونړول شوه نو الله يې له نړېدا وروسته ټولې نښې ورکې کړې، نور قبرونه هم هلته وو، يو قبر و؛ ويل کېده چې د ضرار بن الأزور دی، پر هغه يوه ګنبذه وه چې هغه هم ونړول شوه، څه نورې نښې نښانې وې هغه هم الله عز وجل له منځه يووړې، دې نه غير نور ونې بوټي وو چې له الله پرته يې بندګي کېده، هغه هم لرې کړی شول او خلک ترې منع شول.

مطلب دا چې لکه مخکې مو چې وويل، شيخ رحمة الله عليه دعوت جاري وساته، هم په وينا او هم په عملي توګه، بيا شيخ ته يوه ښځه راغله او څو ځل يې د هغه پر وړاندې په زنا اعتراف وکړ، شيخ د هغې د عقل په اړه وپوښتل نو چا ورته وويل چې هغه عاقله ده او هيڅ مشکل نه لري، نو کله چې

ښځې پر خپل اعتراف ټينګار کاوه او ترې نه اوښته، او نه په زور چا رانيولې وه، نه د کومې شبهې له مخې، او واده شوې (محصنه) هم وه، نو شيخ رحمه الله امر وکړ چې په تيږو دې وويشتل شي، نو د عيينة د قاضي په توګه د هغه په امر په تيږو وويشتل شوه، له دې وروسته د هغه کار د ګنبذې په نړولو، د ښځې په سنګسارولو، الله ته په لوېې بلنې او عيينة ته د مهاجرينو په هجرت لا مشهور شو.

بيا د «أحساء» امير او اړوند خلک لکه بني خالد سليمان بن عريعر الخالدي د شيخ له کارو خبر شول، چې د الله لور ته دعوت کوي، ګنبذې نړوي او حدونه جاري کوي، نو پر دې باندېچي د شيخ کار دروند تمام شو، ځکه باندېچيان -غير له هغو چې الله ورته هدايت وکړی- د عادت له مخې ظلمونه کوي، وينې تويوي، مالونه لوټي، او د حرمتونو سپکاوی کوي، نو دی وويرېد چې دا شيخ به دېر پر مخ ولاړ شي او د دې باندېچي امير واک به له منځه يوسي، نو عثمان ته يې له

ګواښه ډک ليک ولېږه او امر يې ورته وکړ چې دا ملا ووژني، ويې ويل: دغه ملا چې تاسو سره دی موږ يې له دې او هغې خبر شو!! يا يې ووژنه او يا به موږ هغه خراج نور در نه کړو چې له موږ سره دی!! ده سره د امير عثمان د سرو زرو خراج و، نو پر عثمان د دې امير خبره ښه و نه لګېده او ووېرېد چې که خبره يې و نه مني نو يا به ترې خراج ايسار کړي او يا به ورسره وجنګېږي. نو شيخ ته يې وويل: دې امير موږ ته داسې داسې ليکلي دی، او موږ دا نه شو کولی چې تا ووژنو، خو موږ له دې اميره وېرېږو او د جګړې زور يې نه لرو، نو که ستا خوښه وي او ته له موږ بل خوا ولاړ شې ښه به وي، نو شيخ وويل: زما بلنه د الله دين او د دې کلمې د تحقق لپاره ده، چې له الله پرته د بندګۍ وړ هيڅوک نشته او محمد د الله رسول دی، نو څوک چې په دې دين ټينګ پاتې شو، د هغه مرسته يې وکړه او په دې کار کې ريښتونی و، نو الله به يې مرسته وکړي، ملاتړ به يې وکړي او د دښمن سيمې به په واک کې ورکړي، نو که ته صبر

وکړي، تېنګ پاتې شي او دا خير قبول کړي نو زېرى واخله، الله به دې مرسته وکړي، له دې بانډچې او نورو به دې وساتي، او الله به د ده وطن او خلک هم تا ته وسپاري. نو هغه وويل: مونږ د هغه د جګړې زور نه لرو، نه يې په مخالفت صبر کولى شو. دا وخت نو شيخ راووت او له عيينة ښخه «درعية» ته ولاړ، د خلکو په خبره دې ځاى ته پلى ولاړ، تر دې چې د ورځې په اخر کې ورسېد، له عيينة ښخه د ورځې په شروع کې په خپلو پښو راوتى و، عثمان سپرلي نه وه ورکړې، درعية کې يوه مخور سره مېلمه شو، داسې هم ويل کېږي چې دا سړى يې له مېلمستيا ووېرېد او زمکه پرې له پراخۍ سره تنګه شوه، د درعية له امير محمد بن سعود ښخه ووېرېد، خو شيخ ډاډ ورکړ او ورته ويې ويل: د خير زېرى واخله، زه چې کوم شي ته خلک رابولم د الله دين دى او ژر به يې الله ښرګند کړي. بيا محمد بن سعود د شيخ محمد له ورتګه خبر شو، داسې ويل کېږي چې خپلې ښځې خبر کړ، له نېکانو ښوک ورغلى و او ورته ويلي يې وو:

محمد د دې سړي په اړه خبر کړه، د هغه د دعوت منلو ته يې تشويق کړه او د هغه مرستې او لاسنيوي ته يې وهڅوه، هغه يوه نېکه او ښه ښځه وه، کله چې د «درعية» او شاوخوا سيمو امير محمد بن سعود ورغی، ورته وېې ويل: د دې ستر غنيمت زېری درواخله. دا غنيمت الله درته راوړی دی، دعوتګر سړی دی، چې د الله دين ته بلنه کوي، د الله کتاب ته او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنتو ته خلک وربولي، څومره ستر غنيمت دی! وېې منه او مرسته يې وکړه او چې په دې کار کې هيڅ ځنډ و نه کړې، امير د هغې مشوره ومنله خو بيا ټکنی و چې خپله ورشي او که ځان ته يې وروغواړي؟! چا مشوره ورکړه، او ويل کېږي چې دا مشوره هم همدې ښځې له يوه ډله نېکانو سره په ګډه ورکړه، هغوی ورته وويل: دا مناسبه نده چې ځان ته يې راوغواړې، بلکې مناسبه دا ده چې د هغه کور ته ته ورشې، د علماوو او خير ته د بلونکو خلکو قدر بايد وکړې، نو چې الله ورته د خير او نېکبختۍ اراده کړې

وه، دا خبره يې ومنله، د الله رحمت دې ورباندې وي، او پر ګور دې يې نور وي، بيا د محمد بن سويلم کور ته د شيخ ليدو ته ورغی، سلام يې پرې وکړ، ورسره وغږېد او ورته ويې ويل: شيخ محمده، د مرستې، خونديتابه او همکارۍ زېری واخله، نو شيخ ورته وويل: ته هم د مرستې، لاسبرۍ او نېک انجام زېری واخله، دا د الله دين دی، چا يې چې مرسته کړې الله د هغه مرسته کړې او چا يې چې ملا تړلې الله د هغه ملا تړلې ده، ډېر ژر به د دې نښې نښانې وګورې، امير وويل: زه درسره د الله او د هغه د رسول پر دين او د الله په لار کې پر جهاد کولو بيعت کوم، خو زه وېرېږم چې زموږ له ملاتړ او مرستې وروسته که الله ته د اسلام پر دښمنانو غالب کړې، نو بيا به زموږ وطن پرېږدې او بل خوا به ولاړ شې، شيخ وويل: نه؛ پر دې درسره بيعت کوم، په دې درسره بيعت کوم چې وينه په وينه او ويجاړی په ويجاړي دی، ستا له وطنه به هيڅکله و نه وځم، نو د مرستې او ښار کې د پاتې کېدو بيعت يې ورسره وکړ، او

دا چې هغه به له امیر سره پاتې کېږي، امیر به یې مرسته کوي او د الله په لار کې به جهاد ورسره کوي، تر دې چې د الله دین ښکاره شي، پر همدې یې سره بیعت وکړ. بیا له هر ځایه درعیة ته د خلکو پلاوي راتلل پیل شول، له عیینة نه، له عرقة نه، له منفوحة نه، له ریاض او نورو ګاونډیو سیمو نه، درعیة همداسې د خلکو د هجرت وطن پاتې شو، له هر ځایه ورته خلک راتلل، خلکو یو بل ته د شیخ خبرې کولې، درعیه کې د هغه د درسونو، الله ته د دعوت او لارښوونې په اړه غږېدل، نو ډلې ډلې او یو یو راتلل، شیخ په درعیة کې مېشت شو، احترام، مرسته، ملاتړ او محبت یې کېده، درعیه کې یې د عقائدو، قرآن کریم، تفسیر، فقه، حدیث، مصطلح الحدیث، عربي علومو، تاریخ او نورو ګټورو علومو درسونه ترتیب کړل.

له هر ځایه خلک راتلل او ځوانانو او نورو درعیه کې زده کړې کولې، خلکو عامو او خاصو وګړو ته درسونه جوړول، درعیه

کې علم خپور او دعوت عام شو، بیا یې جهاد پیل کړ او خلکو ته یې دې ډګر کې د داخلېدو لپاره ولیکل، څو هغه شرک له منځه ولاړ شي چې د دوی په سیمو کې دی، پیل یې د نجد له خلکو وکړ، د هغه ځای امیرانو او علماوو ته یې لیکل وکړل، د ریاض علماوو او امیر دهام بن دواس ته یې ولیکل، د خرج علماوو او امیر ته یې ولیکل، د لویدیځو سیمو علماوو، د قصیم، حائل، وشم، سدیر او نورو سیمو علماوو ته یې لیکل وکړل. په پرله پسې توګه یې ورته لیکونه لېږل، علماوو او امیرانو ته، دغسې یې د أحساء او حرمینو شریفینو علماوو ته هم ولیکل، له هېواده بهر د مصر، شام، عراق، هند، یمن او نورو وطنونو علماوو ته یې هم لیکل وکړل، همداسې یې خلکو ته لیکونه لېږل او حجت یې قایماوه، خلکو ته یې وریادوله چې ډېری خلک په شرک او بدعت کې اخته دي، او د دې دا معنا نده چې د دین مرستندویان نشته، بلکې شته، او الله د دې دین ذمه واري اخیستې چې خامخا به یې مرسته

کوي، او په دې امت کې به د تل لپاره داسې يوه ډله وي چې پر حق به ولاړه وي او مرسته به يې کېږي، لکه نبي عليه الصلاة والسلام چې ويلي دي، ډېر ځايونه شته چې هلته د حق مرستندويان شته، خو اوس خبره د نجد ده، نجد کې دومره شر، فساد، شرک او خرافات خپاره وو، چې يوازې الله ته معلوم وو، سره له دې چې هلته داسې علماء وو چې د خير خلک وو، خو دا ورته نه وه ليکل شوې چې په دعوت کې فعاليت وکړي او چې څنګه مناسب دی هغسې يې ترسره کړي.

دغه راز په يمن او نورو سيمو کې هم حق ته بلونکي وو، داسې څوک چې دا شرک او خرافات يې پېژندل، خو الله د هغوی بلنې ته دومره بريا نه وه ليکلې، څومره يې چې د شيخ محمد هغې ته ليکلې وه او د دې ډېر اسباب وو، چې يو يې د هغوی د ملګري او مرستندوی نه شتون و، بل يې د ډېری دعوتګرو بې صبري او د الله په لار کې د تکليفونو نه ګالل وو.

بل يې د ځينو دعوتګرو کم علمي وه چې نه يې شو کولی خلک په مناسبو اساليبو، ښکلو عبارتونو، حکمت او نېک نصيحت رهبري کړي. نور يې له دې پرته نور اسباب وو، خو د دغو ډېرو ليکنو، رسالو او جهاد له امله شيخ مشهور شو، دعوت يې څرګند شو او رسالې يې د جزيرې دننه او بهر علماوو ته ورسېدې، لويه برخه خلک يې له دعوته اغېزمن شول، په هند، اندونيزيا، افغانستان، افريقا، المغرب، مصر، شام، عراق کې، او ډېر داسې دعوتګر وو چې له حق او حق ته له دعوت نه خبر وو، نو کله چې د شيخ دعوت وررسېد، فعاليت او قوت يې زيات شو، په دعوت مشهور شول او د شيخ دعوت همداسې په اسلامي او غير اسلامي نړۍ کې پسې خپرېده او څرګندېده. بيا يې په دې وروستي وخت کې کتابونه او رسالې چاپ شول، دغه راز يې د زامنو، لمسيانو او د جزيرې دننه او بهر د مسلمانو علماوو ملګرو او مرستندويانو کتابونه چاپ شول، همداسې يې د دعوت، ژوندليک او د ملګرو په اړه

ليکل شوي کتابونه چاپ شول، تر دې چې په ډېرى لوريو او ښارونو کې په خلکو کې مشهور شو، او دا معلومه خبره ده چې هر نعمت يو کينه ګر لري او هر دعوتګر ډېر دښمنان لري. لکه الله تعالى چې فرمايي: او په همدې توګه مو هر نبي ته انسى او جنى شيطانان دښمنان ګرځولي، چې د غولونې لپاره يو بل ته په (ظاهره) ښکلې خبرې وسوسه کوي او که ستا رب غوښتي واى نو داسې به يې نه وو کړي، نو هماغسې يې په خپلو دروغ تړلو کې پرېږده. [الأنعام ۱۱۲ آيت] نو کله چې شيخ په دعوت مشهور شو، ډېر کتابونه يې وليکل، ارزښتناک تأليفات يې وکړل او خلکو کې يې خپاره کړل او علماوو ورته ليکل وکړل، نو ډلې ډلې حاسدين او مخالفين يې راڅرګند شول، دغه راز يې نور ډېر دښمنان راپيدا شول.

دښمنان او مخالفين يې دوه ډوله شول، يو ډول يې د علم او دين په نوم دښمني کوله او بل ډول د سياست په نوم، خو د علم او دين تر نامه لاندې يې ځانونه پټول او د هغو علماوو

له دښمنۍ يې ناوړه ګټه اخيسته چې له شيخ سره يې دښمني کوله، هغوی چې ده سره يې دښمني ښکاره کړې وه او ويل يې چې دی پر حقه ندی، او داسې او داسې دی، خو شيخ رحمة الله عليه خپل دعوت جاري ساتلی و، شبهې يې له منځه وړلې، دليلونه يې واضح کول او خلک يې هغو حقايقو ته رهبري کول، کوم چې د الله کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنتو کې وو. دوی به کله ويل چې: دی له خوارجو څخه دی، کله به يې ويل چې پر اجماع ورتېر دی او د مطلق اجتهاد دعوه کوي او د پخوانيو علماوو او فقهاوو هيڅ خيال نه ساتي، کله به يې په نورو تورونو تورناوه، او دا هر څه د دوی له ځينو څخه يوازې د کم علمۍ له امله کېدل. او نورو يې بيا د نورو د پيروۍ له امله کول، چې پر نورو يې باور کاوه. بله ډله خلک وو چې په خپلو مراکزو وېرېدل، نو په سياسي توګه يې ورسره دښمني کوله، د اسلام او دين تر نامه لاندې يې کار کاوه، او د ګمراه کوونکو او خراباتيانو پر وينا يې باور کاوه.

مخالفین اصلا درې ډوله دي: یو خرافاتي علماء دي چې حق ورته باطل او باطل ورته حق ښکاري او په دې باور دي چې پر قبرونو ودانۍ کول، جوماتونه ترې جوړول، له الله پرته ترې سوالونه کول، پناه پرې غوښتل او دې ته ورته نور شیان دین او سمه لار ده، دوی په دې عقیده دي چې که څوک له دې منکر شو نو له نېکانو او اولیاوو سره یې بغض وکړ او هغه داسې دښمن شو چې پر ضد یې جهاد فرض دی.

بل ډول: علم ته منسوبېدونکي خلک دي چې د دې سړي له حقیقته ناخبره وو، هغه حق یې ترې و نه پېژانده چې ده ورته دعوت کاوه، بلکې د نورو تقلید یې کاوه، او بېلارې کوونکو خرافاتیانو چې ورته د ده په اړه څه ویل، د هغې تصدیق یې کاوه، او له دې سره په دې ګومان وو چې دوی په هغه څه کې په سمه دي چې شیخ ته یې د اولیاوو او پیغمبرانو په بغض او د هغوی له کراماتو په انکار کې منسوبول، نو د شیخ بدي یې ویله، د هغه دعوت یې بد ګاڼه او لرې ترې تښتېدل.

بله ډله هغه دي: چې په خپلو منصبونو او رتبو ووېرېدل، نو د دې لپاره يې د هغه دښمني کوله چې د اسلامي دعوت د لارويانو لاس تر دوی و نه رسېږي، له منصبونو يې را و نه غورځوي او پر سيمو يې ولکه ټينګه نه کړي، د شيخ او د مخالفينو تر منځ يې لفظي شخړې او لانجې کونجې روانې وې، ده هم ورته ليکل کول او هغوی هم، ده هم خپل دلايل ويل او هغوی يې هم ځواب وايه، دغسې د هغه د زامنو، لمسيانو او ملګرو او د دعوت د مخالفينو تر منځ هم، تر دې چې له دې کاره ډېرې رسالې او ګڼ شمېر ځوابونه جمع شول. دغه رسالې، فتواوې او ځوابونه جمع شول او ډېرو ټوکونو ته ورسېدل، چې اکثريت يې الحمد لله چاپ شوي دي، شيخ خپل دعوت او جهاد جاري وساته او د درعية امير محمد بن سعود يې مرسته کوله، سعودي ټولنې په دې کار کې جديت وښوده او د جهاد بيرغ هسک شو، دغه جهاد له ۱۱۵۸هـ کال څخه پيل شو، په توره او په قلم، په دليل او برهان، بيا دعوت او وسله وال

جهاد روان و، او دا معلومه ده چې د الله عز وجل لور ته دعوت كوونكى كه داسې يو ځواک و نه لري چې د حق مرسته پرې وكړي او حق پرې نافذ كړي، نو ډېر ژر به يې دعوت له منځه ولاړ شي، شهرت به يې ومري او بيا به يې ملګري نه وي، او د دعوت په خپراوي، د دښمنانو په بېخكنى، د حق په نصرت او د باطل په ريښو ويستلو كې چې د وسلې كوم اغېز دى هغه معلوم دى، الله عز وجل په خپل دې قول او ټولو اقوالو كې ريښتونى دى، چې فرمايي: موږ خپل رسولان يقيناً له ښكاره دليلونو سره لېږلي او هغوى سره مو كتاب او تله هم رانازل كړي، تر څو خلك په انصاف ولاړ اوسي. او موږ اوسپنه راكوزه كړه چې په هغې كې سخت زور او د خلكو لپاره (ډېرې) ګټې دي. او د دې لپاره هم چې الله هغه څوك معلوم كړي چې په غيبو د هغه او رسولانو يې مرسته كوي. الله بې شكه ځواكمن برلاسى دى. الحديد ٢٥ آيت نو الله سبحانه وتعالى واضحه كړې چې هغه پيغمبران له واضحو نښو سره

رالېږلي دي، چې هغه ښکاره دلایل او براهین دي، هغه چې الله پرې حق څرګندوي او باطل پرې په شا تمبوي، او له رسولانو سره يې کتابونه نازل کړي چې بیان، هدایت او روښاني په کې ده، تله يې ورسره نازله کړې ده چې هغه عدل دی چې د ظالم او مظلوم تر منځ به انصاف پرې کېږي، حق به پرې قايمېږي او هدایت به پرې خپرېږي، او خلک به يې په رڼا کې په حق او عدل يو له بله چلن کوي، او اوسپنه يې نازله کړې چې سخت زور په کې دی، ځواک په کې دی او د حق د مخالفینو زورنه او ایسارونه په کې ده، نو اوسپنه د هغو خلکو لپاره ده چې دلیل ورسره ګټه نه کوي، نه پرې څرګندې نښې اغېز کوي، نو اوسپنه يې بیا له مخې ورکوي.

او په دې اړه چا دا خبره ډېره ښه کړې چې:

او له وحي پرته بل څه نه دي، یا خو تېره توره وي چې د هر کوږ شخص د مرۍ رګونه پرې کړي

نو دا د هر نا پوهه د ناروغۍ درملنه ده، او همدا د هر انصاف دار د ناروغۍ درملنه ده

نو عاقل او د سليم فطرت خاوند له دليله ګټه اخلي او حق له دليل سره قبلوی، خو ظالم چې د خپلې هوا تابع دی، يوازې توره يې چاره کولی شي، نو شيخ رحمه الله په دعوت او جهاد کې جدي و، او د آل سعود ملګرو يې مرسته کوله، الله دې يې نېکه بدله ورکړي، نو د دوی جهاد او دعوت له ۱۱۵۸ هـ څخه پيل و تر دې چې شيخ په ۱۲۰۶ هـ کې وفات شو، نو جهاد او دعوت نږدې ۵۰ کاله روان و، جهاد، دعوت، مبارزه، د حق لپاره شخړې، د الله او د هغه د رسول د وينا بيان، د الله دين ته دعوت او هغه شريعت ته لارښوونه چې د الله رسول صلی الله عليه وسلم راوړی دی، تر دې چې خلک د الله اطاعت کې اخته او د الله په دين کې داخل شول، کومې ګنبذې چې ورسره وې هغه يې ونړولې، پر قبرونو چې کومو جوماتونه ودان وو هغه يې له منځه يووړل، شريعت يې حاکم کړ، پر شريعت

روان شول او هغه څه یې پرېښودل چې پلرونو او نیکونو یې پرې پرېکړې کولې او د قانون په توګه یې منلي وو، حق ته راوګرځېدل، جوماتونه په لمونځونو ودان شول، د علم حلقې جوړې شوې، زکاتونه ادا شول، روژې خلکو هغسې ونیوې څنګه چې الله فرض کړې دي، په نېکۍ امر او له بدیو منع پیل شول، ښارونه، کلي، لارې او باندې له امنه ډک شوې، باندچیان په خپلو حدودو کې ایسار شول، د الله په دین کې داخل شول او حق یې ومانه، شیخ په دوی کې دعوت خپور کړ، شیخ دوی ته لارښوونکي ورواستول، دښتو بېدیاو ته یې دعوتګر ولېږل، دغه راز یې کلو او ښارونو ته معلمان، لارښوونکي او قاضیان واستول او په ټول نجد کې دا لوی خیر او څرګند هدایت خپور شو، حق هر خوا تیت شو او د الله عز وجل دین راڅرګند شو.

بیا د شیخ رحمة الله علیه له مړینې وروسته د هغه زامنو، لمسیانو، شاګردانو او ملګرو دعوت او جهاد جاري وساته،

چې د زامنو په سر کې يې شيخ امام عبدالله بن محمد، شيخ حسين بن محمد، شيخ علي بن محمد او شيخ ابراهيم بن محمد وو، په لمسيانو کې يې شيخ عبد الرحمن بن حسن، شيخ علي بن حسين، شيخ سليمان بن عبد الله بن محمد او نور وو. په شاګردانو کې يې شيخ حمد بن ناصر بن معمر، د درعية نور ډېر علماء او نور وو چې دعوت او جهاد يې جاري وساته او د الله تعالى دين يې خپور کړ، رسالې يې وليکلې، مؤلفات يې تأليف کړل، د دين له دښمنانو سره يې جهاد وکړ، او د دغو دعوتګرو او د هغوى د مخالفينو تر منځ نور هيڅ نه وو، غير له دې چې دوى خلک د الله توحيد، يوازې د الله عبادت، پر دې عبادت استقامت، پر قبرونو د جوړو جوماتونو او ګنبذو نړولو ته وربلل، د شريعت حاکمولو او پرې ټينګ درېدو ته يې خلک بلل، پر نېکيو امر او له بديو منع ته يې خلک بلل او د شرعي حدودو قايمولو ته يې دعوت کاوه، د دوى او د خلکو تر منځ د شخړې لاملونه دغه وو. خلاصه دا

چې: دوی د الله توحيد ته خلک رهبري کول، پر همدې يې ورته امر کاوه، خلک يې الله سره له شرک او د شرک له وسايلو او ذرائعو منع کول، خلک يې پر اسلامي شريعت برابر کړل، او چا چې له دعوت او بيان وروسته هم انکار او ټينګار کاوه؛ نو د الله لپاره يې ورسره جهاد وکړ، خپلو ځايونو ته پسې ورغلل څو حق ته سرټيټي شي او ورته راوګرځي، يا يې په زور او توره پر حق روان کړي، څو خپله هم حق ته سر ټيټ کړي او د وطن خلک يې هم، دغه راز يې خلک له هغو بدعتونو او خرافاتو منع کړل، چې د الله له لوري نه دي راغلي، لکه پر قبرونو ودانۍ کول او ګنبذې جوړول، يا په طاغوت فيصلې کول، له کوډګرو او کاهنانو سوالونه کول، هغوی ريښتوني ګڼل او نور... دا هر څه الله د شيخ او د هغه د ملګرو په لاس له منځه يووړل، پر ټولو دې د الله رحمتونه وي.

جوماتونه د لوی کتاب، پاک سنت، اسلامي تاريخ او ګټورو عربي علومو له سبقونو ډک شول، خلک په مذاکره، علم،

هدايت، دعوت او سمه لاره تګ بوخت شول، څه نور خلک د خپلې دنيا په کارونو بوخت شول، لکه کرنه، صنعت او نور، علم، عمل، دعوت، لارښوونه، دنيا او دين، يو تن به زده کړه هم کوله او مذاکره هم او له دې سره سره به يې په خپله کرنيزه زمکه کې کار هم کاوه، يا په خپله کارخانه، سوداګرۍ وغيره کې، څه وخت به يې دين ته ورکاوه او څه دنيا ته، الله ته بلونکي او د هغه لار ته برابروونکي ترې جوړ شول، سره له دې په خپلو سيمو کې په مروجو صنعتونو بوخت وو او د دې په مرسته يې هغه څه ترلاسه کول چې له هېواده بهر وو او د دوی ورته اړتيا وه. او کله چې داعيان او آل سعود له نجده وزګار شول، دعوت يې حرمينو او د جزيرې لويديځ لور ته وغځاوه، د حرمينو علماو ته يې له وړاندې هم ليکل وکړل او بيا يې هم ورته کول، خو چې دعوت کار و نه کړ او د حرمينو خلک همداسې د ګنبذو په احترام پاتې شول او پر قبرونو يې لګولې، شرک په کې موجود و او د شرک له خدايګوټو سوالونه

کېدل، نو امام سعود بن عبد العزیز بن محمد د شیخ له مړینې ۱۱ کاله وروسته د حجاز پر لور ولاړ، د طائف خلکو ته هم ورغی او بیا مکې ته ولاړ، طایف ته له سعود وړاندې امیر عثمان بن عبد الرحمن المضایفي ورغلی او په هغه ځواک په کې پاتې و چې د درعیة امیر امام سعود بن عبد العزیز بن محمد ورلېږلی و، دغه ستر ځواک د نجد او نورو ځایونو له خلکو جوړ و، تر هغه یې د امیر مرسته وکړه چې طایف یې لاندې کړ، او د مکې د شریف امیران یې ترې وویستل، او هلته یې الله ته بلنه او حق ته لارښوونه ښکاره کړل، خلک یې له شرکه او د ابن عباس او نورو هغو شیانو له عبادته منع کړل چې د طائف ناپوهانو او بې عقلانو یې عبادت کاوه. بیا امیر سعود د خپل پلار عبدالعزیز په امر د حجاز پر لور ولاړ او د مکې شاوخوا یې لښکرې راټولې کړې.

نو کله چې د مکې شریف پوی شو، چې له تسلیمۍ یا تېښتې پرته بله لار نه شته، نو جدې ته وتښتېد، سعود او ورسره

مسلمانان له جنګ پرته مکې ته ننوتل او د ۱۲۱۸هـ کال د محرم په اتمه يې د دوشنبې په ورځ مکه ونیوله، د الله دين ته دعوت يې پيل کړ، ټولې ګنبذې يې ونړولې او د الله توحيد ته بلنه يې څرګنده کړه، هلته يې مدرسين علماء، لارښوونکي، نصيحت کوونکي او داسې قاضيان تعين کړل چې په شريعت يې پرېکړې کولې، بيا لنډه موده وروسته مدينه فتحه کړی شوه. له مکې نږدې دوه کاله وروسته په ۱۲۲۰هـ کې آل سعود مدينه ونيوه، او حرمين د آل سعود په ولکه کې پاتې شول، هلته يې علماء او مرشدين تعين کړل، عدل، د شريعت پلي کول او له ځايي خلکو -په ځانګړي ډول غريبانو او محتاجانو- سره نېکي يې ښکاره کړه، مالي مرستې يې ورسره وکړې، د هغو تسلي يې وکړه او د الله کتاب يې وروښود، د خير خوا ته يې رهنمايي کړل، د علماوو احترام يې وکړ او د خلکو ښوونې او لارښوونې ته يې تشويق کړل، او تر ۱۲۲۶ هـ پورې حرمين شريفين د آل سعود تر واک لاندې وو. بيا مصري او ترکي

لښکرې د حجاز لور ته راوخوځېدې چې د آل سعود پر خلاف جهاد وکړي او له حرمينو يې وباسي، دې ډېر اسباب لرل چې ځينې يې وړاندې تېر شول. دغه اسباب لکه مخکې چې مو وويل دا و چې د دوی دښمنان او کينه ګر او هغه خرافاتيان چې عقل يې نه درلود، او ځينې سياستوال چې د دې دعوت مړه کول يې غوښتل او له دې وېرېدل چې د دوی منصبونه له منځه يوسي او د دوی تمې پرې نه کړي، نو شيخ او د هغه پيروان او ملګري يې دروغجن وګڼل او ويې ويل: دوی له رسول عليه الصلاة والسلام سره کينه لري، له اولياوو سره کينه لري او د هغوی له کراماتو منکر دي، هغوی ويل، چې دوی داسې وايي، چې د هغوی په ګومان د رسولانو عليهم السلام په حق کې کمی کوي، ځينو ناپوهانو او مغرضينو دا خبرې ومنلې او د هغوی له لوري د شيخ د پيروانو پر ضد د وسيلې په توګه استعمال شول او د هغوی په ځای يې جنګ هم کاوه، هغوی ترکان او مصريان هم د دوی خلاف جنګ ته

وهڅول؛ چې په نتيجه کې هغه فتنې او جګړې رامنځته شوې چې هر چا وليدې، يو لور ته مصري او ترکي پوځونه او د هغوی ملګري وو او بل لور ته آل سعود شو چې په نجد او حجاز کې دا جنګونه د اوږده وخت لپاره له ۱۲۲۶هـ نه نيولې تر ۱۲۳۳ هـ پورې وغځېدل او کله به يو لوری غالب و، کله بل، اووه کاله د حق او باطل د ځواکونو تر منځ جګړې روانې وې.

خلاصه دا چې شيخ محمد بن عبد الوهاب رحمة الله عليه دغسې سړی و، د الله د دين د راښکاره کولو، او د الله توحيد ته د خلکو د رهنمايۍ لپاره راپاڅېدلی و، د دې لپاره چې هغه بدعتونه او خرافات منع کړي چې خلکو په دې دين کې ننويستي دي، خلک پر حق روان کړي او له باطله يې وژغوري، په نېکۍ ورته امر وکړي او له بديو يې منع کړي.

دا د هغه رحمة الله عليه د دعوت لنډيز دی، هغه په عقيده کې د سلفو صالحينو په لار روان و، پر الله، د هغه په نومونو

او صفتونو، پر پرښتو، رسولانو، کتابونو، د قیامت پر ورځ او د خیر او شر په تقدیر یې ایمان درلود، د الله په توحید کې، یوازې د الله په عبادت کې، د الله پر نومونو او صفتونو ایمان کې څنګه چې له الله سبحانه سره ښايي، چې نه یې د الله صفات معطلول او نه یې له مخلوق سره مشابه کول، او پر بعث او بیا ژوندي کېدو باندې په ایمان کې، په جزا او حساب، جنت او دوزخ او نورو شیانو کې په ایمان لرلو کې د اسلام د امامانو پر لار روان و، د ایمان په اړه یې د سلفو په څېر وییل چې ایمان قول او عمل دی، زیاتېږي او کمېږي، په طاعت کولو زیاتېږي او په ګناه کولو کمېږي. دا ټول د هغه رحمة الله علیه له عقیدې څخه وو، دی د هغوی پر لار او عقیده روان و، په وینا او عمل دواړو کې، هیڅکله د دوی له دغې لارې نه ووت، په دې کې یې کوم ځانګړی مذهب هم نه درلود، نه یې کومه خاصه طریقه لرله، بلکې د صحابه و او

تابعينو د نېکو سلفو پر لار روان و، الله دې له ټولو راضي شي.

هغه خپل دغه دعوت په نجد او شاوخوا کې ښکاره کړ، خلک يې ورته راوبلل، چا چې ترې انکار کاوه له هغوی سره وجنګېد، دښمني او جګړه يې ورسره وکړل، تر دې چې د الله دين راښکاره او حق بريمن شو، دغه راز هغه الله ته په دعوت، باطل نه په انکار، پر نېکيو امر او له بديو منع کولو کې د مسلمانانو پر لار روان و، شيخ او د هغه ملګرو خلک حق ته رابلل، چې ټينګ پرې ودرېږي، له باطله يې منع کول، د هغوی دا کار يې بد ګاڼه او زجر يې ورکاوه چې پرې يې ږدي، دغه راز يې د بدعتونو او خرافاتو په بد ګڼلو کې تر هغه هڅې وکړې، تر څو چې هغه الله د ده د دعوت په سبب له منځه يووړل، نو دا درې اسباب چې اوس راروان دي، د هغه او د خلکو تر منځ د دښمنۍ او شخړې لاملونه وو، هغه دا دي:

لومړی: له شرکه انکار او خالص توحید ته بلنه. دویم: له بدعتونو او خرافاتو انکار، لکه پر قبرونو ودانۍ او جوماتونه جوړول او داسې نور، لکه مولودونه او هغه طریقې چې صوفي ډلو ټپلو راویستې وې. دریم: ده خلکو ته پر نېکیو امر کاوه او په زور یې ورته خلک مجبورول، نو که چا به له هغو نېکیو سر غړاوه چې الله پرې فرض کړې دي، په زور یې پرې کول او د پرېښودو په صورت کې یې تعزیر ورکاوه، دغه راز یې خلک له بدیو منع کول او ترې رټل یې، حدونه یې پلي کول، خلک یې د حق منلو ته مجبورول او له باطله یې شړل، همدا وه چې حق څرګند او خپور شو او باطل ورک او له بېخه وویستل شو، خلک په نېکو اخلاقو سنبال شول او په بازارونو، جوماتونو او بل هر ځای کې یې سیده تګلارې درلودې.

بدعتونه نور چا نه پېژندل، نه یې په سیمو کې شرک پاتې و او نه په کې منکرات ښکارېدل. بلکې چا به چې د دوی سیمې او احوال لیدل چې په کوم حال دي، د نېکو سلفو حال به

وریادېده چې په غوره پیېریو کې د نبي صلی الله علیه وسلم، صحابه و او تابعینو په وخت کې پرې خلک وو. خلکو د هغوی په اخلاقو ځانونه سمبال کړل او د هغوی منهج يې خپل کړ، پر دې يې صبر او کوښښ کاوه او پرې جنګېدل، بیا چې په وروستي وخت کې د شیخ محمد او د هغه د ډېری بچیانو رحمة الله علیهم او ملګرو له مړینې ډېر وخت وروسته لږ څه بدلون راغی، په ترکي او مصري دولتونو امتحان او ابتلاء راغلل، چې د الله د دې قول مصداق و: بې شکه الله تر هغه د یو قوم حالت نه بدلوي څو چې هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي. [الرعد ۱۱ آیت] الله عز وجل نه غواړو چې دوی کومې ستونزې ګاللې دي هغه د ګناهونو کفاره او بښنه وګرځوي، او چې څوک ترې وژل شوي دي هغه دې ورته شهادت او لوړې مرتبې وګرځوي، الله دې ترې راضي شي او خپل رحم دې پرې وکړي. د هغو دعوت الحمد لله تر نن ورځې پورې روان دی، مصري لښکر چې کله پر نجد ورننوتل او وژنې

او تخريب يې وکړ، پر دې ډېر کلونه نه وو تېر چې دعوت بيا قايم او خپور شو، له دې نږدې پنځه کاله وروسته امام ترکي بن عبد الله بن محمد بن سعود رحمة الله عليه د دعوت چارې په لاس کې واخيستې او په نجد او شاوخوا کې يې دعوت خپور کړ، نجد کې علماء خپاره شول او کوم ترکان او مصريان چې هلته ول، وويستل شول، له نجد او شاوخوا کليو او ښارونو يې وويستل، او له دې وروسته په کال ۱۲۴۰ هـ کې په نجد کې دعوت خپور شو.

د درعية ويجاړی او د آل سعود دولت له منځه وړل په ۱۲۳۳ هـ کې وو، د نجد خلک تر پنځو کلونو له ګډوډۍ، جګړو او فتنو سره مخ وو، له ۳۴م کاله تر ۱۲۳۹ هـ پورې، بيا په ۱۲۴۰م کال کې د نجد مسلمانان پر امام ترکي بن عبدالله بن محمد بن سعود راټول شول، حق څرګند شو او علماوو کليو او ښارونو ته رسالې وليکلې، خلک يې تشويق کړل او د الله دين ته يې راوبلل، او هغه فتنې مړې شوې، چې د مصريانو او

د هغوی د ملګرو په لاس له رامنځته شويو جګړو وروسته دوی په کې ښکېل وو. دغسې هغه جګړې او فتنې مړې شوې چې د دې جګړو په ترڅ کې د دوی په منځ کې راپيدا شوې وې، د الله دين ښکاره شو او خلک په زده کړه، ښوونه، دعوت او توجيه بوخت شول، تر دې چې هر څه بېرته د پخوا په څېر سم شول او خلک خپل حالت ته وروګرځېدل، په کوم حالت چې د شيخ او د هغه د شاګردانو، زامنو او ملګرو په وخت کې وو، الله دې له ټولو نه راضي شي او رحم دې پرې وکړي، بيا له ۱۲۴۰ هـ څخه دعوت جاري و تر نن ورځې پورې الحمد لله، د سعود اولادې او د شيخ اولادې او د نجد علماوو په پرله پسې توګه يو د بل ځای نيوه، د سعود اولاده په امامت، الله ته په دعوت او د الله په لار کې په جهاد کې د يو بل ځايناستي کېدل.

دغسې علماوو الله ته په دعوت او لارښوونه او حق ته په توجيه کې يو د بل ځای نيوه، خو حرمين شريفين اوږده زمانه

د سعودي له دولته جلا پاتې وو، بيا په ۱۳۴۳ هـ کې ورسره يو ځای شول او امام عبد العزيز بن عبد الرحمن بن فيصل بن تركي بن عبد الله بن محمد بن سعود رحمة الله عليه پرې ولكه ټينګه كړه، او الحمد لله تر نن ورځې پورې د دې دولت تر ولكې لاندې دي.

نو الله لره حمد دی، او الله نه غواړو چې د آل سعود او آل شيخ باقي خلک هم نېكان كړي، دغه ټول مسلمان علماء كه په دې وطن کې دي او كه په نورو کې، الله دې د هغه څه توفيق وركړي چې هغه پرې راضي كېږي، د مسلمانانو علماء كه هر چېرته دي الله دې يې نېكان كړي، ټولو نه دې الله د حق د مرستې او د باطل د رسوايۍ كار واخلي، د سمې لارې داعيان دې الله په هر ځای کې موفق لري، چې د الله فرايض په ښه توګه قايم كړي، او الله دې مونږ او دوی ته نېغه لاره وښيي، حرمين شريفين، د هغو ګاونډي سيمې او ټول مسلمان وطنونه دې الله اباد كړي، پر هدايت، په حق دين، د الله د

كتاب او نبي عليه الصلاة والسلام د سنتو پر تعظيم او پر هغې په منګولو ښخولو، پر هغې په صبر او ثبات او د هغو پر حاكم ګرځولو، تر هغې ورځې چې له خپل رب سره مخ كېږي، الله پر هر څه قادر دى او دعا ډېره ښه قبلوي. دا وروستي هغه څه وو چې ما بيان كړل او تاسو مې د شيخ له حالت، دعوت، د هغه له ملګرو او دښمنانو خبر كړئ، الله غوره مرستندوى دى، پر همغه مو توكل دى، ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم، وصلى الله وسلم وبارك على عبده ورسوله، نبينا وإمامنا محمد بن عبد الله، وعلى آله، وأصحابه، ومن سلك سبيله واهتدى بهداه والحمد لله رب العالمين.